Cour
Pénale
Internationale

International
Criminal
Court

Le Bureau du Procureur
The Office of the Prosecutor

# د افغانستان وضعیت

# د پنځلسمې مادې سره سم د پلټنې د پرانیستو په موخه د څارنوالې د غوښتنې لنډیز

هاګ، ۲۰۱۷ کال، د نومبر ۲۰

## لومړی:    سریزه

۱.    د ۲۰۱۷ کال د نومبر په ۲۰، څارنوالي له محاکمې مخکې محکمې څخه د روم تړون د پنځلسمې مادې د دریم بند سره سم، د صلاحیت د ورکړې غوښتنه وکړه څو د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د ۲۰۰۲ کال د جولای میاشتې لومړی نیټې راپدیخوا د حالاتو پلټنه پیل کړي. په ځانګړي ډول، څارنوالي د افغانستان په خاوره کې د ۲۰۰۳ کال د مئ میاشتې لومړی نیټې راهیسي تر شک لاندې ترسره شویو جرمونو او همداراز په افغانستان کې د وسلوالې جګړې او وضعیت پورې تړلیو جرمونو چې د تړون د غړیو هیوادونو په خاوره یا قلمرو کې د ۲۰۰۲ کال د جولای میاشتې لومړی نیټې راپدیخوا ترسره شوي وي، د پلټلو او څېړلو په موخه منظوري غوښتې.

۲.    افغانستان کې ۳۵ کال کیږي چې خونړۍ جګړه روانه ده چې د روم تړون د ۲۰۰۳ کال د مئ میاشتې د لومړی نیټې له انفاذ څخه ډېره پخوا پیل شوې. له هغه وخته راهیسي، وسلوالې جګړې په هیواد کې په پرله پسې زور موندلی څرنګه چې د طالبانو غورځنګ د اوسني دولت او نړیوالو قواوو په وړاندې په هیواد کې واک ته د رسیدو او بیرته د خپل حاکمیت د تحمیلولو په موخه خپل غلچکي یا ګورلایي جنګ ته دوام ورکړئ. دا چې وسلوالې جګړې زور موندلی، د ادعاشویو جُرمي پیښنو رپوټونه، چې د جُرمونو د نړیوالې محکمې د صلاحیت په حیطه کې راځي، هم ورسره زیات شوي. د ۲۰۰۹ کال راهیسي، کله چې د ملکي مرګ ژوبلې په اړه دقیق احصائیوي رپوټونه پیل شول، په افغانستان کې د ښکیلو وسلوالو اړخونو لخوا له ۲۶،۵۰۰ څخه زیات ملکي خلک وژل شوي. د هیواد په ډېرو برخو کې ملکي خلک د خراب امنیتي حالت څخه کړیږي او نړدې هره ورځ له بریدونو سره مخ دي.

۳.    د لاسرسي وړ مالومات ښیي او دا واقعیت په ګوته کوي چې طالبان او د دوی ملګري د ادعاشویو جُرمونو مسؤولیت په غاړه لري. د بشر ضد جُرمونه او جنګي جُرمونه دوی د دې له پاره کوي څو په پراخ ډول د ویرې اچولو خپل سیستماتیک کمپاین، هدفي وژنو او د هغو ملکي خلکو برمته کولو ته ادامه ورکړي چې له افغان دولت او بهرنیو مؤسسو سره همکاري کوي یا د طالبانو د حاکمیت او ایدیولوژۍ مخالف دي. د لاسرسي وړ مالومات دا هم ښیي چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه په ځانګړي ډول د ملي امنیت منسوبین او د ملي پولیسو منسوبین د افغانستان په توقیف ځایونو کې په جګړې کې د نیول شویو کسانو سره د جنسي زوروني په ګډون، په شکنجو، ظلم او زور زیاتي کې ښکیل پیژندل شوي. په پای کې، د لاسرسي وړ مالومات همداشان ښیي چې د امریکې متحدو ایالاتونو وسلوالو ځواکونو او د سي آی اې غړو په جګړه کې له نیول شویو بندیانو سره په افغانستان او  نورو سیمو  کې شخصي وقار ته د سپکاوی، زبرزنا، جنسي تاوتریخوالی، د ظلم، شکنجو، ناوړه چلند او نور اړونده ناوړه اعمال د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو په ترڅ کې ترسره کړي.

۴.	د جګړې اړوند زيات شمير جُرمونو له کبله چې د رپوټونو له مخې د ۲۰۰۳ کال د مې له ۱ نيټې راپديخوا د افغانستان په خاوره او د ۲۰۰۲ کال د جولای له ۱ نيټې راپديخوا د تړون د نورو غړيو هيوادونو په خاوره کې ترسره شوي او د وسلوالو ډلو او ځواکونو د تعدد له کبله، ادعا شوي جُرمونه چې د څارنوالي په غوښتنليک او ضميمو کې په ګوته شوي يوازې تر ټولو زيات عام او مستند اتهامات ښيي. په حقيقت کې، که چيرې له محاکمې مخکې محکمه پريکړه وکړي چې د پنځلسمي مادې د ۴ بند سره سم د پلټنې اجازه او صلاحيت ورکوي، دا چاره بايد د څارنوالۍ پلټنه يوازې ځانګړو جُرمونو پورې محدوده نه کړي چې په دې غوښتنليک کې راغلي؛ بلکې، څارنوالي بايد د دې توان ولري چې د نورو هغو ادعاشويو جُرمونو پلټنه وکړي چې د منظورۍ په حيطه کې راځي. په ځانګړي ډول، د افغانستان وضعيت داسې دی چې جُرمونه پکې د ادعا له مخې په ورځني ډول، د لوی شمير وسلوالو لخوا د دولت په ملاتړ او خلاف، ترسره کيږي.

۵.	د پورته يادو جُرمونو څخه معافيت استثنا نه، بلکې تقريباً يو اصل دی. د لسيزو جګړې چې پايله يې د دولتي ادارو له منځه وړل وو او د واک او قدرت تړو وسلوالو ډلو لخوا د ملکي خلکو جاري ځورونو وروسته، افغان ټوپکواکو او جنګ سالارانو او په پارلمان کې د دوی ملاتړو په جګړې کې د جُرمونو او د بشر ضد جُرمونو په وړاندې په ۲۰۰۷ کال کې د عفوه قانون تصويب کړ. په دې وروستيو کې، د جنايي کړنلارې قانون او د جزاء قانون کې تعديلات رامنځته شوي څو په صريح ډول د روم تړون جُرمونه مدغم کړي او د محدوديت له مقرراتو يې مستثنی کړي. په متحدو ايالتونو کې، د کانګرس د يو شمير پلټنو سره سره چې د استنطاق هغه بې سارې او بې سابقه تفصيلات يې افشاء کړل چې د وسلوالو ځواکونو او د سي آی اې له خوا سرته رسيدلي وو، د ښکيلو اشخاصو په وړاندې يا هيڅ ډول ملي پلټنې او څيړنې سرته نه دي رسيدلي يا د لاس رسي وړ مالومات کافي نه دي څو د اړوندو ملي اقداماتو په اړه طرحې په ګوته کړي.

۶.	د ترسره شويو جُرمونو سنګينی يا وزن ته په کتو سره او د هغو مرتکبينو په وړاندې د اړوندو ملي عدلي او قضايي ارګانونو لخوا د قانوني اقداماتو نه شتون چې د اکثريتو جدي جُرمونو مسؤل ګڼل کيږي، څارنوال پيشنهاد کوي چې د حالاتو له پلټنو څخه راټوکيدونکي بالقوه مدارک به معتبر او مؤثق وي. د جُرمونو د وزن او د قربانيانو د ليوالتيا په نظر کې نيولو سره، هيڅ ډول بنسټيز دلايل وجود نلري چې د پلټنو په اړه څوک داسې فکر وکړي چې د دې هر څه په پای کې عدالت به تامين نه شي.

**دوهم:	قضايي صلاحيت**

**الف.	د محکمې د قضايي صلاحيت د ننه ادعا شوي جُرمونه**

۷.	د لاسرسي وړ مالوماتو پر بنسټ، او د محکمې د قضايي صلاحيت د ننه د نورو ممکنه جُرمونو د څيړلو پر مهال پرته له کوم تعصب چې کيدای شي د پلټنو او څيړلو په لړ کې په ګوته

شي، قانع کوونکي دلایل شته چې لاندې د بشر ضد جرمونه ترسره شوي دي: وژنې (اوومه ماده، لومړۍ فقره او a بند (article 7(1)(a))؛ بندي کول یا د نورو فزیکي آزادیو څخه شدید محرومیت (اوومه ماده، لومړۍ فقره او د e بند (article 7(1)(e)) او د سیاسي او جنسیتي شالید یا سابقې پر بنسټ د مشخصو ډلو ځورول (اوومه ماده، لومړۍ فقره او د h بند (article 7(1)(h))؛ او لاندې جنګي جُرمونه ترسره شوي: وژنې (اتمه ماده، دوهمه فقره او د c بند i (article 8(2)(c)(i))؛ ظالمانه چلند او شکنجه (اتمه ماده، دوهمه فقره او د c بند i (article 8(2)(c)(i)) د شخصي وقار او شان تر پښو لاندې کول، په ځانګړي ډول سپک چلند (اتمه ماده، دوهمه فقره او د c بند ii (article 8(2)(c)(ii))، په لوی لاس ملکي خلک تر برید لاندې نیول (اتمه ماده، دوهمه فقره، د e بند i (article 8(2)(e)(i))؛ په لوی لاس پرسونل او اهداف تر برید لاندې نیول چې په بشري مرستو یا سوله ساتو ماموریتونو کې ښکیل وو (اتمه ماده، دوهمه فقره د e بند iii (article 8(2)(e)(iii))؛ په لوی لاس خوندي اهداف تر برید لاندې راوستل (اتمه ماده، دوهمه فقره او د e بند iv ( article 8(2)(e)(iv))؛ په زور زنا او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه (اتمه ماده، دوهمه فقره او د e بند vi (article 8(2)(e)(vi))؛ له پنځلسو کلونو لاندې ماشومانو څخه ګټه اخیستنه او په عسکري خدمت نیول (اتمه ماده، دوهمه فقره او د e بند vii (article 8(2)(e)(vii))؛ د جنګي مخالفینو وژل او ژوبلول (اتمه ماده، دوهمه فقره او د e بند ix (article 8(2)(e)(ix)).

*د ادعاشویو جُرمونو د ارتکاب ځایونه (مکان)*

۸. پورته یاد جُرمونه د ادعاوو له مخې د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې ترسره شوي. کندهار او هلمند تر ټولو زیات زیانمن ولایتونه دي چې په اړونده موده کې د جګړې زور او شدت هلته زیات وو. په داسې حال کې چې د ۲۰۰۳ نه تر ۲۰۰۸ کال پورې جنګ د افغانستان په سهیل او سهیل ختیځو سیمو پورې محدود وو، خو د ۲۰۰۹ کال رهیسي د دولت ضد وسلوالو ډلو خپل نفوذ ته د کابل ګاونډیو ولایتونو (په ځانګړي ډول وردګ او لوګر) او همداشان ځینو شمالي ولایتونو (په ځانګړي ډول کندز، بغلان، بدخشان، بلخ، فاریاب او جوزجان) ته پراختیا ورکړې. د متحدو ایالتونو نظامي توقیف ځایونه او زندانونه په بګرام هوایي ډګر (کابل ته نږدې) او شپږو سهیل ختیځو ولایتونو کې جوړ شول.

۹. دا چې افغانستان یو غړی هیواد دی، محکمه کولی شي د ۲۰۰۳ کال د مۍ میاشتې له لومړۍ نیټې راپدیخوا پرته له دې چې متهم د کوم هیواد تابعیت لري، د افغانستان په خاوره کې د ټولو ترسره شویو جُرمونو په وړاندې خپل قضایي صلاحیت څخه کار واخلي. سربیره پردې، ادعا کیږي چې د پولنډ، رومانیا او لیتوانیا هیوادونو په قلمرونو کې د افغانستان وسلوالې جګړې پورې اړوند محدود شمیر شکمن جُرمونه ترسره شوي وي چې یاد هیوادونه د تړون غړي هیوادونه دي. دا چې یاد شکمن ترسره شوي جُرمونه د افغانستان وسلوالې جګړې پورې تړاو پیدا کوي، نو د اوسني وضعیت په حدودو کې راځي او ورسره نږدې تړاو لري.

*د ادعاشویو جُرمونو د ارتکاب د وخت موده*

۱۰.   هغه ادعاشوي جُرمونه چې د افغانستان په خاوره کې د ۲۰۰۳ کال د مۍ میاشتې له لومړۍ نیټې راپدېخوا ترسره شوي د محکمې د قضایي صلاحیت په حیطه کې راځي ځکه افغانستان د روم تړون ته خپل د الحاق سند د ۲۰۰۳ کال د فبرورې په لسم سپارلی او د همدې کال د مۍ میاشتې له لومړۍ نیټې راهیسې تړون نافذ ګڼل کیږي.

۱۱.   د جُرمونه په اړوند چې په افغانستان کې رواني وسلوالې جګړې پورې تړاو پیدا کوي او د ادعاوو له مخې د نورو غړو هیوادونو په خاوره کې ترسره شوي، د ۲۰۰۲ کال د جولای په لومړۍ نیټې د پولنډ او رومانیا او د ۲۰۰۳ کال د اګست په لومړۍ نیټې د لیتوانیا له پاره د روم تړون نافذ شو.

۱۲.   په دې اساس، هغه حالات چې څارنوال یې په اړه د صلاحیت غوښتنه کوي نه یوازې هغه جُرمونه چې په افغانستان کې د ۲۰۰۳ کال د مۍ میاشتې له لومړۍ نیټې راهیسې ترسره شوي، بلکې نور ادعاشوي جُرمونه هم په بر کې نیسي چې په افغانستان کې وسلوال جنګ او وضعیت سره نږدې تړاو لري او د تړون د نورو غړیو هیوادونو په قلمرو کې سرته رسیدلي.

*ښکیلې ډلې او اشخاص*

۱۳.   افغانستان کې وسلوال جنګ د افغان دولت چې د آیساف او متحدو ایالتونو ځواکونو لخوا یې ملاتړ کیږي (د دولت ملاتړي قوتونه) او غیردولتي وسلوالو ډلو په ځانګړي ډول طالبانو (د دولت ضد ډلو) ترمنځ د غیربین المللی وسلوالې جګړې په توګه د څارنوالی لخوا ډلبندي شوی. د نړیوالو ځواکونو ګډون د جنګ غیر بین المللی ځانګړنې او ماهیت ته بدلون نه ورکوي ځکه دا قوتونه د افغانستان انتقالي اداري په ملاتړ کې، چې د ۲۰۰۲ کال د جون په نولسمه رامنځته شوه، ښکیل شوي دي.

۱۴.   د ځیړنو په پایله کې، څارنوالی پریکړه کړې چې د مالوماتو له مخې لږ تر لږه لاندې جُرمونه د محکمې د قضایي صلاحیت په حیطه کې سرته رسیدلي:

- د بشر ضد جُرمونه او جنګي جُرمونه د طالبانو او د دوی اړوند حقاني شبکې د غړو لخوا؛
- د کړاو او شکنجې جنګي جُرمونه، شخصي وقار ته سپکاوی او جنسي تاوتریخوالی د افغانستان د امنیتي ځواکونو، په ځانګړي ډول د ملي امنیت ریاست او ملي پولیسو لخوا؛
- د ۲۰۰۳ ــ ۲۰۰۴ کلونو ترمنځ موده کې د افغانستان په خاوره کې د متحدو ایالتونو د وسلوالو قواوو د منسوبینو لخوا او د افغانستان او د غړیو هیوادونو په خاوره کې د سي

آی اې د غړو لخوا په پټو توقیف ځایونو او زندانونو کې د کړاو او شکنجې جنګي جُرمونه، شخصي وقار ته سپکاوی، زبرزنا او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه.

۱۵. څارنوالۍ همداشان نور هغه اتهامونه څېړلي چې په افغانستان کې د نړیوالو نظامي قوتونو لخوا سرته رسیدلي. په ځانګړي ډول، د ۲۰۰۹ کال راهیسې، کله چې یوناما په سیستماتیک ډول د مرګ ژوبلې ثبت پیل کړل، نږدې ۱،۸۲۰ ملکي خلکو مړینه یې ثبت کړې.

۱۶. د یو لوی شمیر پېښو په اړه د مالوماتو له څېړلو وروسته چې نړیوالو قوتونو پورې تړاو پیدا کوي، څارنوالۍ پریکړه کړې چې که څه هم دا عملیات ملکي وګړو ته د جزیي زیان سبب شوي، په ډیرو پېښو کې مالومات دا ښیي چې نظامي قوتونو ملکي وګړو ته او یا هغو ملکي وګړو ته چې په وران کارو کړنو کې ښکیل نه وي، په لوی لاس د زیان اړولو نیت نه دی کړی.

۱۷. خو، که چیرې د وضعیت په اړه پلټنه منظوره شوه، دا او نور هر ډول ادعاشوي جُرمونه چې ښایي د پلټنو له پیل وروسته پیښ شي، په هر حال د مناسبې پلټنې تابع کیږي.

## ب: حقوقي ځانګړنه او دلایل چې یاد جُرمونه د محکمې په قضایي صلاحیت کې راځي

هغه جُرمونه چې اتهام یې پر طالبانو او د دوی اړوند وسلوالو ګروپونو پورې کیږي.

۱۸. څارنوالۍ د جُرمونو په اړوند هغه د لاسرسي وړ مالومات ارزولي چې د دولت ضد وسلوالو ډلو په ځانګړي ډول د طالبانو او د دوی ملګرو لخوا د افغانستان په وسلواله جګړه کې ترسره شوي. د دې مالوماتو پر بنسټ، د دولت ضد وسلوالي ډلې د ۲۰۰۹ کال رهیسي د ۱۷،۰۰۰ ملکي خلکو او همداشان په لوی لاس او په هدفي شکل د ۷،۰۰۰ ملکي وګړو د وژلو مسؤلیت لري. د ۲۰۰۳ کال د مۍ میاشتې په موده کې، بلواګرو ډلو پر خوندي ودانیو لکه ښوونځیو، د ملکي حکومت ودانیو، روغتونونو، زیارتونو، جوماتونو او بشري سازمانونو باندې حملې کړي.

۱۹. د طالبانو مشرتابه په صریح ډول په یوه رسمي سند لکه د لایحې او فتوا له لارې، پر ملکي خلکو د حملو کولو خپله پالیسي اعلان کړي؛ په عامه خبرتیاوو کې چې د طالبانو د چارواکو یا د دوی ویندوی لخوا خپریږي، ادعا کوي چې ملکي وګړي د برید اصلي هدف وي او یا د ملکي خلکو عامه نوملړ چې باید ووژل یا ونیول شي.

۲۰. د لاسرسي او باور وړ مالومات شتون لري چې طالبانو او د دوی وسلوالو ملګرو د بشر ضد جُرمونه لکه وژنې (اوومه ماده، لومړۍ فقره د a بند (article 7(1)(a))، بندي کول یا له

فزيکي آزادۍ شديد محروميت (اوومه ماده، لومړۍ فقره د e بند ((article 7(1)(e)) او د سياسي او جنسيتي تړاو پر بنسټ د مشخصو ډلو( اوومه ماده، لومړۍ فقره د h بند ((article 7(1)(h)) ځوروني ترسره کړي. د اتهامونو له مخې دا جُرمونه د هغو ملکي وګړو په وړاندې د پراخو او سيستماتيکو بريدونو د برخې په توګه ترسره شوي چې د افغانستان دولت او يا بهرنيو بنسټونو سره د ملاتړ شک پرې کيده، يا د طالبانو د واک او ايديولوژۍ سره مخالف وو. طالبانو د خپلې پاليسې په تعقيبولو د افغانستان له دولت څخه د واک ترلاسه کولو او د خپل واک او عقايدو د تحميل په موخه ګڼ شمير له تاوتريخوالي ډک اعمال ترسره کړي. په ځانګړي ډول، ښځې او انجونه په عمدي ډول د طالبانو او د دوی ملګرو لخوا تر بريد لاندې راغلي څو د مرګ ګواښونو، تيښتونو او وژنو له لارې دوی له درس ويلو، تدريس کولو، او عامه چارو کې له ګډون څخه منعه کړي.

۲۱. د ۲۰۰۳ کال د مې مياشتې له لومړۍ نيټې رهيسي، طالبانو او د دوی اړوندو ملګرو لاندې جنګي جُرمونه د غير بين المللي وسلوالې جګړې په چوکاټ کې ترسره کړي: وژنې (اتمه ماده، دوهمه فقره د c بند i ((article 8(2)(c)(i)) ؛ په لوی لاس ملکي خلک تر بريد لاندې نيول (اتمه ماده، دوهمه فقره د e بند i ((article 8(2)(e)(i))؛ په لوی لاس بشري پرسونل تر بريد لاندې نيول (اتمه ماده، دهمه فقره د e بند iii ((article 8(2)(e)(iii))؛ په لوی لاس خوندي اهداف تر بريد لاندې راوستل (اتمه ماده، دهمه فقره د e بند iv ((article 8(2)(e)(iv)) ؛ له پنځلسو کلونو لاندې ماشومانو څخه د دښمنيو په پاللو کې ګټه اخيستنه او په عسکري خدمت نيول (اتمه ماده، دوهمه فقره د e بند vii ((article 8(2)(e)(vii))؛ د جنګي مخالفينو وژل او ژوبلول (اتمه ماده، دوهمه فقره د e بند ix ((article 8(2)(e)(ix)). دا جنګي جُرمونه په لويه پيمانه د پلان يا پاليسۍ د برخې په توګه سرته رسيدلي.

*هغه اعمال چې د شک له مخې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو لخوا ترسره شوي*

۲۲. بيلابيلو سرچينو د افغانستان د بشري حقونو د مستقل کميسيون، يوناما او په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان د ولسمشر لخوا د حقيقت موندنې ټاکل شوي کميسيون په ګډون د افغانستان دولت په توقيف ځايونو او زندانونو کې د شکنجې دوديزه او عمومي کاروني په اړه رپوټونه ورکړي.

۲۳. د باور وړ او مؤثق مالومات شتون لري چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د شکنجې او ظالمانه چلند جنګي جُرمونه ترسره کړي (اتمه ماده، دوهمه فقره د c بند i article (8(2)(c)(i))؛ شخصي وقار ته سپکاوی (اتمه ماده، دوهم فقره د c بند ii (8(2)(c)(ii))؛ او جنسي تاوتريخوالی او ځورونې (اتمه ماده، دوهمه ماده د e بند vi (8(2)(e)(vi)) يې کړي. هغه دولتي چارواکي چې په جګړه کې د نيول شويو کسانو د شکنجې شک ورباندې کيږي د ملي امنيت رياست، د افغانستان ملي پوليسو او د افغانستان د ملي اردو، د افغانستان سرحدي ملي پوليسو او د محلي پوليسو منسوبين دي.

۲۴. د لاسرسي وړ مالومات په واضع ډول دا نه ښيي چې د افغان ځواکونو د منسوبينو لخوا په جګړه کې د نيول شويو کسانو په وړاندې تر شک لاندې ياد جُرمونه دې د ولايت يا ولسوالۍ په

کچه د کوم پلان یا پالیسۍ له مخې ترسره شوي وي. خو، د لاسرسي وړ ځینې مالومات ښیي چې ادعاشوي جُرمونه په لویه پیمانه ترسره شوي.

*هغه تر شک لاندې جُرمونه چې د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو او د سي آی اې لخوا سرته رسیدلي*

۲۵. د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې د ۲۰۰۳ کال د مې میاشتې د لومړۍ نیټې رهیسې، د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو منسوبینو لاندې جنګي جُرمونه ترسره کړي: شکنجه او ظالمانه چلند (اتمه ماده، دوهمه فقره، د c بند i ((article 8(2)(c)(i))؛ او شخصي وقار ته سپکاوی (اتمه ماده، دوهمه فقره د c بند ii ((article 8(2)(c)(ii))، زبرزنا او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه (اتمه ماده، دوهمه فقره د e بند vi (article 8(2)(e)(vi)) دا جرمونه د غیربین المللی وسلوالې جګړې په چوکاټ کې ترسره شوي. سربیره پر دې، د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې د ۲۰۰۲ کال د جولای میاشتې د لومړۍ نیټې راهیسې د سي آی اې منسوبینو لاندې جنګي جُرمونه هم د افغانستان په خاوره او هم د ټرون د نورو غړیو هیوادونو په خاوره یا قلمرو کې تر سره کړي وي: شکنجه او ظالمانه چلند (اتمه ماده، دوهمه فقره د c بند i (article 8(2)(c)(i))؛ شخصي وقار ته سپکاوی (اتمه ماده، دوهمه فقره د c بند ii (article 8(2)(c)(ii))؛ او په زبرزنا او د جنسي ځورونې یا تاوتریخوالي نور ډولونه (اتمه ماده، دوهمه فقره د e بند vi ((article 8(2)(e)(vi)). دا جنګي جُرمونه د غیربین المللي وسلوالي جګړې په چوکاټ کې هم د افغانستان په خاوره او هم د ټرون د نورو غړیو هیوادونو په خاوره کې ترسره شوي.

۲۶. په ځانګړو مواردو کې، د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو منسوبینو لږترلږه ۵۴ نیول شوي کسان (له بیلابیلو رپوټونو څخه انتخاب شوي) د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو ترمنځ د افغانستان په خاوره کې شکنجه، زبرزنا او جنسي تاوتریخوالی او ور سره ناوړه چلند او د دوی شخصي وقار ته سپکاوی کړی. د لاسرسي وړ مالوماتو له مخې د سي آی اې مسوبینو لږترلږه ۲۴ نیول شوي کسان (له بیلابیلو رپوټونو څخه انتخاب شوي) د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو تر منځ د افغانستان په خاوره او د ټرون نورو غړیو هیوادونو (لکه پولنډ، رومانیا او لیتوانیا) په خاوره یا قلمرو کې شکنجه، ورسره ناوړه چلند او د دوی شخصي وقار ته سپکاوی، جنسي تاوتریخوالیاو یا ورسره زبرزنا کړې.

۲۷. د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې دا ادعاشوي جُرمونه په افغانستان کې وسلوالې جګړې پورې اړوند وضعیت سره په تړاو ترسره شوي. په ځانګړې ډول، دا جُرمونه په جګړه کې نیول شویو کسانو په وړاندې ترسره شوي چې د طالبانو او یا د القاعده د غړو یا له هغوی سره د همکارۍ شک پرې کیده.

## دریم: د منلو وړتیا

د پنځلسمې مادې سره سم، د بالقوه قضیو په تړاو د منلو وړ ثبوتونه ارزول کیږي چې ښایي محکمې ته وړاندې شي.

۲۸ د دریو ښکیلو شکمنو ډلو د مرتکبینو، د طالبانو غړي او د دوی ملګري (د دولت ضد ډلې)؛ د افغانستان امنیتي ملي ځواکونو منسوبینو؛ او د متحدو ایالتونو د وسلوال پوځ یا د سي آی اې منسوبینو له کړنو او اعمالو څخه د بالقوه قضیو او اسنادو له تشخیصولو وروسته، څارنوالي باور لري چې دا بالقوه اسناد او مدارک چې ښایي د حالت له څیړلو او پلټلو څخه په افغانستان کې په لاس راشي د منلو وړ وي. که چیرې محکمه د وضعیت په تړاو د پلټنې منظوري ورکړه، د هرو هغو اضافي مالوماتو په ګډون چې ښایي د اړوندو غړیو هیوادونو لخوا د اتلسمې مادې د قضایي صلاحیت په رڼا کې برابر شي څارنوالي به تر هغې چې حالت د پلټنې او څیړنې لاندې وي، د ملي اقداماتو د شتون ارزونې ته ادامه ورکړي.

## الف. د طالبانو او د اړوندو وسلوالو ډلو غړي

*د تکمیلي حالت اصل*

۲۹. د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې تر اوسه هیڅ ډول ملي پلټنه او څیړنه د هغو کسانو په وړاندې نه ده ترسره شوې چې تر ډېره د جُرمونو د ارتکاب شک پرې کیږي چې دا د طالبانو غړي او د دوی اړونده وسلوالې ډلې دي.

۳۰. د افغانستان پارلمان په ۲۰۰۷ کال کې د عمومي عفوې قانون تصویب کړ چې په ۲۰۰۹ کال کې نافذ شو. د عمومي عفوې او ملي روغې جوړې قانون ټولو جګړمارو خواوو ته د هغو کسانو او ډلو په ګډون چې اوس هم د افغانستان اسلامي جمهوریت سره په مخالفت کې قرار لري، له کوم مؤقتي محدودیت یا د نړیوالو جُرمونوپه اړه له کومې استثنا پرته، قانوني معافیت برابروي.

۳۱. په دې وروستیو کې، د افغانستان دولت هڅې پیل کړي څو د روم تړون د مقرراتو سره سم د خپلو مکلفیتونو د پوره کولو او د جُرمونو د نړیوالې محکمې د څیړنو او پلټنو له پاره د لار هوارولو په موخه خپل ظرفیت لوړ کړي. په ځانګړي ډول، په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان دولت د جنایي کړنلارې قانون تعدیل کړ څو د روم تړون جُرمونه د محدودیت له عادي مقرراتو مستثنی کړي. د افغانستان دولت همداراز د جزاء نوی قانون خپور کړ چې اوس د روم تړون جُرمونه صریحاً مدغم یا یوځای کوي او متفوق مسؤلیت د تعهد د ډول یا روش په توګه تصریح کوي. د جزاء قانون مصوبه د افغانستان د پارلمان لخوا د ۲۰۱۷ کال په مې میاشت کې تصویب شوه.

۳۲. د لاسرسي وړ مالوماتو په رڼا کې، څارنوالي دې پایلې ته رسیدلې چې هغه بالقوه قضیې چې دوی تشخیص کړي او د طالبانو او له دوی سره د تړلو ډلو لخوا د ادعا له مخې ترسره

شوي، اوس مهال د منلو وړ دي، دا په دې مانا ده چې د افغانستان او د محکمې ترمنځ د صلاحیت پر سره کوم اختلاف نشته.

*د جُرم سنګینی او جدیت*

۳۳. د ۲۰۰۹ نه تر ۲۰۱۶ کلونو په موده کې، ۵۰،۸۰۲ ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې (۱۷،۷۰۰ کسان مړه او ۳۳،۰۳۲ کسان ژوبل) مسؤلیت د دولت ضد وسلوالو ځواکونو ته منسوبیږي چې تر ډیره د دوی د بمونو او همداشان د ځانمرګو بریدونو له کبله دي. د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې ډیری جرمونه په ځانګړي ربړ او ظلم سره یا د دې له پاره چې د ځایي ملکي خلکو په منځ کې ترهه او ډار واچوي، ترسره شوي. قربانیان په عمدي ډول د توپیر او تبعیض له مخې د دوی د سیاسي عقیدي او وفادارۍ او جنسیت پر بنسټ تر هدف لاندې نیول شوي او همداشان مدني او ولسي مشران په مشخص ډول هدف ټاکل شوي. د سیاسي، دولتي کارکوونکو، قومي او ولسي مشرانو، ښوونکو او مذهبي عالمانو د هدفي وژنو کمپاین همداراز ځایي افغان ولسونه له کاري ادارو او بنسټونو څخه محروم کړي. د هیواد په ډیرو برخو کې بلواګرو د مستقیمې ستراټیژۍ له لارې د طبي کارکوونکو او ماین پاکوونکو په ګډون د دولت کارکوونکو او روغتیایي کارکوونکو تر هدف لاندې نیولو له طریقه افغانان د روغتیایي پاملرنې په ګډون له بشري مرستو او بنسټیزو دولتي خدمتونو څخه محروم کړي.

۳۴. په جوماتونو کې د جمعي لمونځ پر مهال په خلکو د بریدونو په ګډون، په عامه ځایونو کې پر خلکو برید او د ځانمرګو بریدونو له لارې جُرمونه په داسې طریقه سرته رسیدلي څو ډیر شمیر قربانیانو ته مرګ ژوبله واړول شي. د خاینانه تکتیکونو پراخې کارونې ملکي وګړي د دولت او نړیوالو ځواکونو لخوا د بریدونو له لوی خطر سره مخ کړي چې پایله یې د ملکي خلکو په مرګ ژوبله کې زیاتوالی دی. تر شک لاندې جُرمونو په ځانګړي ډول پر ښځو او انجونو پراخ او شدید اغیز کړی. د انجونو زده کړه او تعلیم تر دوامدار برید لاندې پاتې شوی چې په پایله کې زرګونه انجونه د زده کړې له حق څخه بې برخې شوي.

## ب. د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو منسوبین

*د تکمیلي حالت اصل*

۳۵. د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې تر اوسه د افغانستان د ملي امنیت ځواکونو د هغو منسوبینو په وړاندې په ملي کچه تحقیق او پلټنه نه ده شوې چې تر ډیره د جُرمونو شک پرې کیږي. په ځانګړي ډول د ملي امنیت ریاست او د ملي اردو په توقیف ځایونو او زندانونو کې د ظالمانه چلند او شکنجې د اتهاماتو د میزان او رسوایی سره سره، تر اوسه افغان چارواکو په جګړه کې د نیولو شویو کسانو سره د ظالمانه چلند او شکنجو په تړاو د مرتکبینو او یا د دوی لوړپوړو چارواکو په وړاندې محدود شمیر اقدامات کړي. سربیره پردې، دا اقدامات د ټیټ پوړو

مستنطقینو، مستقیمو مرتکبینو او یا د دوی د آمرانو په وړاندې اتخاذ شوي، نه د هغو په وړاندې چې د دې جُرمي کړنو تر ټولو زیات مسؤلیت ورته متوجه دی.

۳۶. سربیره پر دې، د افغانستان او متحدو ایالتونو او همدراز د افغانستان او په آیساف کې ونډه لرونکو هیوادونو ترمنځ د قواوو د حقوقي وضعیت په تړاو چې د ځواکونو د ونډه لرونکو هیوادونو د چارواکو لخوا د جُرمي قضایي صلاحیت بشپړ تطبیق پیش بیني کوي، په افغانستان کې تر شک لاندې هغو جُرمونو په اړه چې د نړیوالو ځواکونو د منسوبینو لخوا ترسره شوي په ملي کچه هیڅ ډول پلټنې او څیړنې نه دې ترسره شوي.

د جُرم سنګیني او جدیت

۳۷. تر شک لاندې جرمونه په لویه پیمانه ترسره شوي چې د ریپوټونو له مخې په ځانګړو ځایونو کې شکنجې په بنیادي ډول ترسره شوي. لوی شمیر نیول شویو کسانو له خولې ویل شوي چې شکنجه شوي او ظالمانه چلند ورسره شوی. هغه زندانونه او توقیف ځایونه چې شکنجه پکې عادي کار وو او په سیستماتیک ډول ترسره کیده د ټول هیواد په بیلابیلو ولایتونو کې موقعیت لري او کومې مشخصې جغرافیایي سیمې پورې نه محدودیږي.

۳۸. هغه طریقې او ډولونه چې دا جُرمونه پکې ترسره شوي همداراز ښکاري چې ناوړه، ظالمانه، دوامداره او شدید وو څو هغه کس ته زیات درد ورسیږي او په دې کې جنسي تاوتریخوالی او استفاده هم شامله ده. تر شک لاندې جرمونو د دایمي فزیکي ټپونو په ګډون د نیول شویو کسانو په فزیکي او روحي روغتیا باندې شدیدې او سختې لندمهالې او اوږدمهالې اغیزې پرې ایښې.

## ج. د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو او سي آی اې غړي

*د تکمیلي حالت اصل*

۳۹. د لاسرسي وړ مالومات ښیي چې تر اوسه د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو د هغو منسوبینو په وړاندې په ملي کچه تحقیق او پلټنه نه ده شوې چې تر ډیره د جُرمونو شک پرې کیږي.

۴۰. که څه هم متحدو ایالتونو په صریح ډول اعلان کړی چې دوی د نیول شویو کسانو سره د ناوړه چلند په اړه زرګونه پلټنې تره سره کړي، خو دا ډول پلټنې او یا څیړنې ښکاري چې یوازې پر هغو شک لاندې اعمالو متمرکزې وې چې د مستقیمو فزیکي مرتکبینو او یا د دوی د لوړپوړو لخوا ترسره شوي وي. یوه له دې پلټنو داسې نه ښکاري چې د هغو کسانو جُرمي مسؤلیت یې پلټلی او څیړلی وي چې د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو منسوبین دي او په دې غوښتنلیک کې د یادو تخنیکونو د رامنځته کولو، منظورۍ او د څار مسؤلیت ورته راجع کیږي. د یو شمیر زیاتو هڅو سره سره، څارنوالي په دې ونه توانیده چې له وضاحت او آزمایښتي ارزښت څخه

برخمن داسې واضح مالومات یا ثبوتونه ترلاسه کړي چې وښيي چې د نیول شویو کسانو سره د ناوړه چلند د قضیو په تړاو په افغانستان کې د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو په وړاندې د محکمې د صلاحیت په حیطه کې کوم ګام پورته شوی وي چې د دې قربانیانو شمیر لږترلږه ۵۴ په ګوته شوی.

۴۱. د لاسرسي وړ مالومات ښيي چې د سي آی ای د هغو کسانو په وړاندې تر اوسه کومه پلټنه او څېړنه نه ده شوې چې تر ډېره د جرمونو د ارتکاب شک پرې کیږي. داسې ښکاري چې محدودې ګروېږنې او جُرمي اقدامات یوازې د مستقیمو مرتکبینو په کړنو او اعمالو یا هغو کسانو باندې متمرکزې شوي چې د ښه نیت له مخې یا د حقوقي سلا دفتر لخوا د ټاکل شویو حقوقي لارښودونو په چوکاټ کې چارې نه دې ترسره کړي. داسې نه ښکاري چې د سي آی ای د هغو غړو په وړاندې د جُرمي مسؤلیت په تړاو قانوني اقدامات شوي وي چې په دې غوښتنلیک کې د یادو تخنیکونو د رامنځته کولو، منظورۍ یا د څار مسؤلیت په غاړه درلود.

۴۲. د اقداماتو په تړاو چې په نورو غړیو هیوادونو کې ترسره شوي، د رپوټونو له مخې په پولنډ، رومانیا او لیتوانیا کې تر شک لاندې هغو جُرمونو په تړاو جُرمي پلټنې رواني دي چې په اړونده خاورو یا قلمرونو کې د سي آی ای په توقیف ځایونو کې ترسره شوي وي. که چیرې محکمې د پلټنې منظوري ورکړه، څارنوالي به د هرې اړوندې دعوا د پرمختګ ارزولو ته ادامه ورکړي څو متیقن شي چې دعوا او قانوني اقدامات هماغه کسانو په وړاندې ده او نهایتاً د هماغه جُرمونو په اړه ده چې د څارنوالۍ لخوا د پلټنو په لړ کې تشخیص شوي وو.

*د جُرم سنګینې یا جدیت*

۴۳. د اشخاصو هغه ډلې چې ښایي د محکمې د صلاحیت په حیطه کې د راتلونکو پلټنو تابع جوړ شي د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو منسوبین او د سي آی ای هغه غړي په بر کې نیسي چې د استنطاق تخنیکونه یې اختراع، منظور یا یې د تطبیق د څار مسؤلیت په غاړه لرلی وي چې د شکمنو جرمونو د ارتکاب باعث ګرځیدلی وي.

۴۴. د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو په تړاو ادعاشوي جُرمونه ښکاري چې د متحده ایالتونو د وسلوالو ځواکونو لخوا د ټولو نیول شویو کسانو پر نسبي کوچنۍ سلنه ترسره شوي وي چې په ټاکلي موده کې نږدې ۱۰،۰۰۰ کسانو ته یې شمیر رسیږي. ادعاشوي جُرمونه همدارا‌ز بریښي چې د محدود وخت له پاره پیښ شوي وي چې له هغې وروسته د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو لخوا د دې ډول تخنیکونو کارونه په ټوله نړۍ کې په رسمي ډول لغوه اعلان شوه او د متحدو ایالتونو د اردو د ډګر یا جنګ لارښود د جینوا کنوانسیون د بندیانو سره د چلند او استنطاق له پاره معیار وټاکه. خو، ادعاشوې ترسره شوې کړنې هم د شمیر له مخې او هم د اغیزې له مخې جدي دي او که څه هم دا کړنې د استنطاق د منظورشوې پالیسۍ سره سم تطبیق شوي چې په ځایي کچه رامنځته شوې نه د مرکز لخوا، خو د قومندې په جوړښت کې شخصي مسؤلیت په ګوته کوي.

۴۵.   د سي آی اې لخوا له بندیانو سره چلند ښکاري چې په ځانګړي ډول د کیفي ارزونې له مخې سخت او زړه بوګنوونکي وي. تر شک لاندې جرمونه ښکاري چې د جدي فزیکي او رواني ټپونو، کلتوري او دیني اربښتونو ته د سپکاوي، قربانیان له روحي ستونزو سره د مخامخ کولو په ګډون له ځانګړي ظلم او زور زیاتي سره ترسره شوي وي څو نیول شوي کس ته سخت درد ورسیږي. هغه نیول شوي کسان چې د استنطاق شدیدو تخنیکونو (EITs) او د اوږدې مودې له پاره د انزوا سره مخامخ کړی شوي وو د وهم، اپلتو، بې خوبۍ او ځان ته د زیان رسولو په ګډون، رواني او سلوکي ستونزو سره مخ وو.

۴۶.   سربیره پر دې، حقایق همداراز ښیي چې د متحدو ایالتونو د وسلوالو ځواکونو او د سي آی اې د غړو لخوا  له نیول شویو کسانو سره د ناوړه چلند په هکله کمرنګه ګزارشونه خپاره شوي.

## څلورم:    د عدالت ګټې

۴۷.   د ادعاشویو جنګي جرمونو او د بشر ضد جرمونو جدیت او اندازه چې په افغانستان کې د وخت په تیریدو سرته رسیدلي او دوام لري، په جنګ کې د ټولو ښکیلو خواوو په منځ کې مرتکبین، د جُرمونو تکرار او په ملي کچه د مسؤلیت په اړه محدود لیدلوری د پلټنې د پرانیستو له پاره لار هواروي. د څارنوالۍ د حکم او د روم تړون د اهدافو په رڼا کې او  د لاسرسي وړ مالوماتو پر بنسټ،  څارنوالۍ د باور وړ کافي دلایل په ګوته کړي  چې د پلټنې پرانیستل به د عدالت ګټې تامین کړي.

## پنځم:  پایله

۴۸.   د پورته یادو دلایلو، د وړاندې شویو مالوماتو  اود فرعي او کمکي توکو او موادو پر بنسټ، څارنوالۍ له محاکمې مخکې محکمې څخه غوښتنه کړې څو د ۲۰۰۲ کال د جولای میاشتې  له لومړۍ نیټې راپدیخوا د افغانستان اسلامي جمهوریت د وضعیت په تړاو د پلټنې پیل منظور او تصویب کړي.

۴۹.   د ۵۰ اصل سره سم، د غوښتنلیک د وړاندې کولو په اړه څارنوالي قربانیانو یا د دوی حقوقي استازو ته د پلټنې د پیلولو په هکله د خپل نیت په اړه خبر ورکړ چې د محکمې د مقرراتو د ۵۰ اصل د لومړۍ فقرې سره سم، دوی د ۲۰۱۸ کال د جنوري تر ۳۱ نیټې وخت لري چې محکمې ته خپل شکایتونه راولیږي.